د افغانستان اسلامي جمهوریت

د پوهنې وزارت

د هلمند ولایت د پوهنې ریاست

د موسی قلعه ولسوالۍ د پوهنې آمریت

# د پایلو پربنسټ د پرمختګ کلنۍ راپور

کیفیت او تړاو

انډولیز لاسرسی

آغیزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

دوره:

له : 1397/10/1

تر: 1398/9/30

## د مطالبو لړلیک

د ولسوالی په اړه عمومي معلومات ..................................................................................................................... 3

د کړنو لنډیز: ..................................................................................................................................................... 5

د  پوهنې وزارت  د درېیم ستراتیژیک پلان د عرصو په اساس  پرمختګونه او لاسته راوړنې ............................................... 6

۱. کیفیت او تړاو .................................................................................................................................................. 6

۲. زده کړو ته انډولیز لاسرسی: ............................................................................................................................. 8

۳. آغیزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت ................................................................................................................ 10

## د ولسوالۍ په اړه عمومي معلومات

| | |
|---|---|
| الف. د ولسوالۍ نوم: | موسی قلعه |
| ب. په ولسوالۍ کې د جنسیت په توپیر د عمومِي زده کړو د ښوونځیو شمېر | |
| د نارینه ښوونځیو شمېر | 28 |
| د ښځینه ښوونځیو شمېر | 0 |
| د مختلط یا ګډ ښوونځیو شمېر | 0 |
| ج: په ولسوالۍ کښې د نوعیت له مخې د عمومي زده کړو د ښوونځیو شمېر | |
| د لومړنیو ښوونځیو شمېر | 20 |
| د منځنۍ دورې د ښوونځیو شمېر | 4 |
| د لیسې دورې د ښوونځیو شمېر | 4 |
| د: په ولسوالۍ کې د جنسیت په توپیر د عمومي زده کړو د زده کوونکو شمېر | |
| د نارینه زده کوونکو شمېر | 3441 |
| د ښځینه زده کوونکو شمېر | 0 |
| ه: په ولسوالۍ کې د دایمي غیرحاضر زده کوونکو شمېر | |
| د نارینه دایمي غیر حاضر زده کوونکو شمېر | 673 |
| د ښځینه دایمي غیر حاضر زده کوونکو شمېر | 0 |
| و: جغرافیائي معلومات | |
| ولسوالۍ ته د نژدې پرتو کلیو شمېر | 25 |
| ولسوالۍ څخه د لرې پرتوکلیو شمېر | 1500 |
| ز: امنیتي وضعیت | |
| په ولسوالۍ کې د تړل شویو ښوونځیو شمېر | 14 |
| د ښوونځیو د تړل کېدو لاملونه | د تشکیل او بودجې د کمښت له امله |
| د تړل شویو ښوونځیو د ښوونکو او زده کوونکو برخلیک | د نورو ښوونځیو د فاصلې د لرې والي له امله په ښوونځیو کې نه دي شامل شوي او له زده کړې څخه بې برخې شوي دي، 11 تنه ښوونکي نورو ښوونځیو ته خدمتي شوي او په یادو ښوونځیو کې په دندو بوخت دي. |
| په ولسوالۍ کې د امنیتي پېښو شمېر، چې ښوونیزې آسانتیاوې د ګواښ سره مخ کړې. | 0 |

**تائید کوونکی:** موسی قلعه ولسوالي

| شمېر | نوم | د دنده ـ موقیعت | تلیفون شمېره | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| 1 | عبدالوحید | امر معارف | 0702040280<br>0748902282 | [signature] |
| 2 | عصمت الله | امر لنظارت | 0706472248 | [signature] |

## د کړنو لنډیز:

### 1. په ولسوالۍ کې د ټولو ښوونځیو د کیفیت او تراو په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې

- د 1398 کال کې په اوږدو کې ټول ټال 17680 ټوکه نوي درسي او 479 لارښود کتابونه د پوهنې ریاست له ډیپو څخه د (موسی قلعه) ولسوالی پوهنې آمریت ته او له هغه ځایه اړوند ښوونځیو ته ویشل شوي دي، چې په پایله کې، درسي کتابونو ته د زده کوونکو لاسرسی آسانه شوی او د زده کړې د کیفیت د ښه والي لامل شوی دی.
- د بودیجې د کمښت له امله د دې برخې 8 فعالیتونه په پلان کې نه دي شامل شوي او کومه کړنه هم نه ده تر سره شوې.

### 2. په ولسوالۍ کې ټولو ښوونځیو ته د انډولیز لاسرسي په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې

- د 1398 کال په اوږدو کې ټول ټال 230 تنه نارینه زده کوونکي د (موسی قلعه) ولسوالی د اړوند ښوونځیو په لمړنیو ټولګیو کې د زده کړو ترلاسه کولو په موخه نوي جذب شویدي چې لدې سره د ټولو زده کوونکو شمېر 3441 تنه زده کوونکو ته چې ټول یې نارینه دي رسیږي. د یادولو وړ ده چې د ښځینه زده کوونکو جذب د نا امنۍ له کبله نه دی تر سره شوی.
- د 1398 کال په اوږدو کې د سیمه ایيزو زده کړو 30 بابه ټولګي جوړ شوي، چې د هغو له جملې څخه 3 ټولګي د ښځینه وو لپاره دي چې له امله یې 1135 تنه نارینه او 150 تنه ښځینه زده کوونکو ته چې د زده کړې له نعمت څخه بې برخې وو د زده کړې زمینه برابره شوې ده. د یادولو وړ ده چې د یادو ټولګیو تدریسي چارې د 30 تنه نارینه ښوونکو لخوا پر مخ وړل کېږي.
- د 1398 کال په اوږدو کې د اقرا پروګرام په چوکاټ کې د دې ولسوالی په اړمنو سیمو کې د 8 بابه ښوونځیو د جوړېدو کار پیل شوی چې ٪80 پرمختګ لري. د یادو پروژو په پلي کېدو او بشپړېدو سره به زده کوونکو ته مناسب روزنیز چاپېریال چمتوشي.
- د دې برخې شاوخوا 17 شاخصونه د بېلابېلو لاملونو لکه نا آمنۍ، دودیزې ستونزې، بودیجې نشتون او نورو له کبله نه دي تر سره شوي.

### 3. په ولسوالۍ کې د آغیزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې

- د 1398 کال په اوږدو کې ټول ټال (14) بابه ښوونځي د پوهنې ریاست د څارنې غړو له لورې د زده کړې د کیفیت او کمیت د ښه والي په موخه څارل شویدي، او په ترڅ کې (168) څارنیز رپوټونه چمتو شوي او د پوهنې ریاست په ګډون اړوند مسؤلینو سره په خپل وخت شریک شویدي.
- د ولسوالۍ په کچه په فعالو ښوونځیو کې د زده کوونکو د روزلو په موخه، ښوونکي خپلو دندو ته په پوره لیوالتیا سره حاضرېږي او د 1398 کال په اوږدو کې (100) سلنه حاضري یې ورکړې ده.

## د پوهنې وزارت د درېیم ستراتیژیک پلان د عرصو په اساس پرمختګونه او لاسته راوړني

### ۱. کیفیت او تړاو

**تولیزه موخه:** زده کوونکي په هره برخه کې پوهه، اړتیاوې او ارزښتونه چې د یو تولیدوونکي، جوړ او دنده پیژندونکي هیواد وال لپاره اړین دي تر لاسه کړي او د آعیزمني وندې په اخیستو سره به د ټولنیزې سلامتیا او آرامتیا لپاره چمتو او په کورني او نړیوالو بازارونو کې به د تل پاتې بوختیاوو لپاره تیار شي.

**لمړی جدول:** د کیفیت او تړاو په برخه کې پلان شوي شاخصونه او د هغوئ پرمختګ ښیئ.

| شمېره | شاخصونه | کلنۍ موخه | پرمختګ/لاسته راوړنه | توپیر |
|---|---|---|---|---|
| 1 | د ولایت له خوا ولسوالیو ته د ویشل شویو درسی او ښوونکي لارښود کتابونو شمیر | 17680 | 17680 | 0 |
| 2 | ښوونځیو ته د ویشل شویو درسي او د ښوونکي لارښود کتابونو شمېر | 17680 | 17680 | 0 |
| 3 | د ښوونځیومدیران، ښوونکي او علمي څارونکو شمېر چې د نویو تدریسي وسایلو د کارولو لپاره روزل شوي دي | 0 | 0 | 0 |
| 4 | د ښوونکو شمیر چې د ښوونکو د روزنې په مرکزونو (TTC) کې له مضموني زده کړو څخه برخمن شوي دي | 0 | 0 | 0 |
| 5 | د مضمون د محتویاتو اړوند د ترسره شویو روزنو شمېر | 0 | 0 | 0 |
| 6 | د ښوونځیو د مدیرانو شمېر چې د ښوونکو د ملاتړ او لارښوونې په موخه روزل شوي دي | 0 | 0 | 0 |
| 7 | د ښوونځیو په کچه د هغه ښوونیزو څارنو شمېر چې د ښوونکو د ملاتړ په موخه ترسره شوي دي | 0 | 0 | 0 |
| 8 | په ښوونځیو کې د هغه ښوونکو شمېر چې د ښوونکو د لارښوونې او وړتیا لوړوالي په موخه فرصتونه ورته برابر شوي دي (آزمایینتي ښوونځي) | 0 | 0 | 0 |
| 9 | د ښوونځیو د اداري کارکوونکو او مدیرانو شمېر چې د SMT په پروګرام کې روزل شوي دي | 0 | 0 | 0 |
| 10 | د ښوونکو شمېر چې د۳- ۶ ټولګی پورې د تدریس په موخه د ریاضي، لیک او لوست په برخه کې روزل شوي دي. | 0 | 0 | 0 |

**دویم جدول:** ستونزې او وړاندیزونه

| **ستونزې:** |
|---|
| • د زده کوونکو د شمېر په تناسب د درسي کتابونو کموالی<br>• د درسي کتابونو د لیږد لپاره د ټرانسپورټ ستونزه شتون لري، او ډېری وخت د موسی قلعه ولسوالۍ پوهنی آمریت ته درسي کتابونه د معتمد لخوا راوړل کیږي او بیا له اړوند آمریت څخه ښوونځیو ته وېشل کیږي چې دا کار د کتابونو د وېش په بهیر کې د ځنډ لامل ګرځي. |

**نورې ستونزې:**

- زده کوونکو لپاره د میزونو، څوکیو او نورو اړینو توکو کموالی
- په ښوونځیو کې د زده کوونکو د عملي کار لپاره د مجهزو لابراتوارونو نشتون

**پوهنې ریاست ته وړاندیزونه**

- د پوهنې ریاست مقام دې د موسی قلعه ولسوالۍ د اړتیاو سره سم په ټولو برخو په ځانګړې توګه د ښوونکو او کارکوونکو د ورتیا لوړولو په برخو کې اړینې سرچینې او امکانات برابر او په پام کې ونیسي.
- د کتابونو د لیږدولو لپاره دې اړینه بودیجه په پام کې ونیول شي ترڅو درسي کتابونه په ټاکلي وخت د زده کوونکو په واک کې ورکړل شي.

**پوهنې وزارت ته وړاندیزونه**

- پوهنې وزارت مقام دې د زده کوونکو د شمېر په تناسب درسي کتابونه چاپ او پر ټاکلي وخت دې د هلمند ولایت د موسی قلعه ولسوالۍ اړوند ښوونځیو ته د وېشلو په موخه د دې آمریت په واک کې ورکړي.
- پوهنې وزارت مقام ته وړاندیز کېږي، ترڅو د دې ولسوالۍ اړوند ښوونځیو د زده کوونکو د عملي کار ترسره کولو او د مناسبو اړینو توکو برابرولو په موخه مجهز لابرتوارونه په پام کې ونیسي او د زده کوونکو د اړتیا وړ میزونو، څوکیو او نورو توکو پېرلو لپاره پوره بودیجه په پام کې ونیول شي.

## ۲. زده کړو ته انډولیز لاسرسی:

**تولیزه موخه:** د هیواد ماشومان، ځوانان او لویان په ځانګړی ډول نجوني او ښځي کیفیت لرونکو او آغیزمنو ښوونیزو فرصتونو او آسانتیاوو ته انډولیز لاس رسی لري.

**دریم جدول**: د انډولیز لاسرسي په برخه کې پلان شوي شاخصونه او د هغوئ پرمختګ ښیئ.

| شمیره | شاخصونه | کلنی موخه | پرمختګ/لاسته راوړنه | توپیر |
|---|---|---|---|---|
| 1 | په ښوونځیو کې د نویو شامل شویو نارینه زده کوونکو شمیر | 0 | 230 | 0 |
| 2 | په ښوونځیو کې د نویو شامل شویو ښځینه زده کوونکو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 3 | د نویو تأسیس شویو نارینه ښوونځیو شمېر | 0 | 0 | 0 |
| 4 | د نویو تأسیس شویو ښځینه ښوونځیو شمېر | 0 | 0 | 0 |
| 5 | د نویو تأسیس شویو مختلط ښوونځیو شمېر | 0 | 0 | 0 |
| 6 | د هغو ښوونځیو شمیر چې نوې ودانۍ ورته جوړې شوي دي | 0 | 8 (د کار لاندي) | 0 |
| 7 | د اضافی جوړو شویو ټولګیو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 8 | د بیا رغول شویو ښوونځیو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 9 | د هغه ښوونځیو شمیر چې احاطوي دیوالونه ورته جوړ شوي دي | 0 | 0 | 0 |
| 10 | د نویو کیندل شویو د اوبو څاګانو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 11 | په ښوونځیو کې د نویو جوړو شویو مبرزونو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 12 | د هغو ښوونځیو شمیر چې د ښوونځي مرستي ( school grant) یې ترلاسه کړې دي | 0 | 0 | 0 |
| 13 | د چټکو زده کړو (ALC) نویو جوړو شویو نارینه ټولګیو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 14 | د چټکو زده کړو (ALC) نویو جوړ شویو ښځینه ټولګیو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 15 | د چټکو زده کړو په ټولګیو کې د نارینه زده کوونکو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 16 | د چټکو زده کړو په ټولګیو کې د ښځینه زده کوونکو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 17 | د سیمه اییزو ټولګیو (CBE) نویو جوړو شویو نارینه ټولګیو شمیر | 0 | 27 | 0 |
| 18 | د سیمه اییزو ټولګیو (CBE)نویو جوړ شویو ښځینه ټولګیو شمیر | 0 | 3 | 0 |
| 19 | په سیمه اییزو ټولګیو کې د نارینه زده کوونکو شمیر | 0 | 1135 | 0 |
| 20 | په سیمه ایزو ټولګیو کې د ښځینه زده کوونکو شمیر | 0 | 150 | 0 |
| 21 | د نارینه ښوونکو شمیر چې د CBE ټولګیو لپاره ګمارل شوي دي | 0 | 30 | 0 |
| 22 | د ښځینه ښوونکو شمیر چې د CBE ټولګیو لپاره ګمارل شوي دي | 0 | 0 | 0 |
| 23 | دCBE ټولګیو شمیر چې مرکزي ښونځیو ته انتقال شوي دي | 0 | 0 | 0 |
| 24 | دهغه نارینه او ښځینه زده کوونکو شمیر چې له سیمه اییزو زده کړو ټولګیو څخه اصلي ښوونځیو ته لیږدول شوي دي. | 0 | 0 | 0 |

**څلورم جدول:** ستونزې او وړاندیزونه

| |
|---|
| **ستونزې:** |
| • د موسی قلعه ولسوالی په اړوند ښوونځیو کې د څښاک د اوبو څاګانې د بودیجې د نشتوالي او د مرستندویه موسسو د نه پاملرنې له امله نه دي کیندل شوي.<br>• په 1398 کال د دې ولسوالی اړوند ښوونځیو لپاره کمکي مرستې (school grant) نه دي ترسره شوي.<br>• په 1398 کال کې د دې ولسوالی لپاره د چټکو زده کړو په برخه کې کومه ونډه او بودیجه نه ده ورکړل شوې.<br>• په ټوله کې د دې برخې ټولټال 17 شاخصونه د بیلابېلو لاملونو لکه د بودجې او بستونو نشتون، تشکیلاتو کمښت او نا امنۍ له کبله نه دي ترسره شوي. |
| **نورې ستونزې:** |
| • د ښوونځیو لپاره د درسي خونو کموالی<br>• د ښوونځیو لپاره د مبرزونو کموالی |
| **پوهنې ریاست  ته وړاندیزونه:** |
| • د موسی قلعه ولسوالۍ په اړوند ښوونځیو کې د څښاک د اوبو څاګانو کېندلو لپاره د اړتیا وړ بودیجه په پام کې ونیسي تر څو زده کوونکي د څښاک له پاکو اوبو څخه برخمن شي.<br>• مرستندویه موسسې دې د چټکو زده کړو ټولګیو جوړولو په برخه کې پاملرنه وکړي ترڅو له زده کړې بې برخې زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابره شي. |
| **پوهنې وزارت ته وړاندیزونه:** |
| • د پوهنې وزارت مقام دې د ښوونځیو د پراختیا په موخه کمکي مرستې په پام کې ونیسي تر څو د دې ولسوالی د ښوونځیو ستونزې هوارې شي.<br>• زده کوونکو ته د مناسب ښوونیز چاپېریال رامنځته کولو په موخه، وړاندیز کېږي تر څو د دې ولسوالی اړوند بې ودانۍ ښوونځیو لپاره د ودانۍ جوړولو او نورو اړینو آسانتیاوو برابرولو په موخه د پام وړ بودیجه په پام کې ونیول شي. |

## ۳. آغیزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

**تولیزه موخه:** د کیفیت لرونکو  او برابرو ښوونیزو چوپړتیاو وړاندی کولو لپاره د مرکز او ولایتونو په کچه د آغیزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت پراختیا او پیاوړتیا.

**پنځم جدول:** د آغیزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت په برخه کې پلان شوي شاخصونه او د هغوئ  پرمختګ ښیئ.

| شمیره | شاخصونه | کلنی موخه | پرمختګ/لاسته راوړنه | توپیر |
|---|---|---|---|---|
| 1 | د څارل شویو ښوونځیو شمیر | 0 | 14 | 0 |
| 2 | د چمتو شویو او سپارل شویو څارنیزو راپورونو شمیر | 0 | 66 | 0 |
| 3 | نږدې ښوونځیو ته د تبدیل شویو نارینه او ښځینه ښوونکو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 4 | د مسلکي مضمونونو پر بنسټ د تبدیل شویو ښوونکو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 5 | د ګمارل شویو نارینه ښوونکو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 6 | د ګمارل شویو ښځینه ښوونکو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 7 | د ښوونکو د حاضری سلنه | 100 | 100 | 0 |
| 8 | د ښوونځیو په کچه د نویو تاسیس شویو اداري شوراګانو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 9 | د ښوونځیو د چمتو شویو پرمختیایي پلانونو (SIP) شمیر | 0 | 1 | 0 |
| 10 | د ښوونځیو د شوراګانو د روزل شویو غړو شمیر | 0 | 0 | 0 |
| 11 | د عامه پوهاوي د پروګرامونو شمیر چې په مسجدونو، ښوونځیو شورا، کلیو او یا هم په عامه ځایونو کې جوړ شوي دي. | 0 | 25 | 0 |

**شپږم جدول:** ستونزې او وړاندیزونه

| **ستونزې:** |
|---|
| • د تشکیل د کمښت، د ښوونکو بستونو او بودیجې نشتوالي له امله د دې برخې ښېر شاخصونه په پلان کې نه دي شامل شوي او په یادو شاخصونو کې کومې کړنې هم نه دي تر سره شوي.<br>• د مسلکي ښځینه ښوونکو کموالی |
| **پوهنې ریاست  ته وړاندیزونه** |
| • د پوهنې ریاست مقام دې د دې ولسوالۍ د اړوند ښوونځیو د اړتیا وړ بستونو نوملړ د پوهنې وزارت مقام سره شریک کاندې تر څو یادې ستونزې ته پر وخت رسیدنه وشي.<br>• د پلان شویو فعالیتونو لپاره دې د اړتیا وړ بودجه په پام کې ونیول شي. |
| **د پوهنې وزارت ته وړاندیزونه** |
| • د پوهنې وزارت مقام دې د هلمند ولایت د موسی قلعه ولسوالی د ښوونکو تشکیلات پراخ کړي تر څو د ښځینه ښوونکو کمښت پوره کړای شي، او یا هم د رسمي ښوونکو پر ځای دې د حق الزحمه او قراردادي ښوونکو د ګمارنې په موخه بودیجه په پام کې ونیول شي. |